# تعاوني زده کړه

**د زده کونکي بريا نوښت له لارې، د اونټاريو ثانوي ښوونځي د زده کونکي انفرادي زده کړې سبکونو او علاقو پوره کولو کې مرستې لپاره پراخه شوي پروګرامونه وړاندې کوي. دا پروګرامونه زده کونکو ته اجازه ورکوي چې د نوي او وده شوي زده کړې انتخابونو تنوع له لارې خپل د ليسې تجربه ترتيب کړي. په دغه انتخابونو کې غبرګ کريډيټ، د متخصص ستر لوي مهارتونه او تعاوني زده کړه شامل دی.**

**دا پروګرامونه د ټولو زده کونکو اړتياو، علاقو او پياوړتيا پوره کولو سره مرسته کوي، هغوی په زده کړه بوختوي او د فراغت او له هغې وروسته لپاره هغوی په ښه توګه چمتو کوي.**

## تعاوني زده کړه (Co-op) څه شی دی؟

- تعاوني زده کړه د وزارت يو تصويب شو ی پروګرام دی چې زده کونکو ته اجازه ورکوي د کار ټاکلو پرمهال د ثانوي ښوونځي کريډيټې لاسته راوړي. پروګرام د يوه Co-op کورس درلودونکی دی چې د تعاوني زده کړه ښوونکي په واسطه نظارت کيږي، په هر مضمون کې يو اړوند د نصاب کورس او د کار يوه ټاکنه.
- زده کونکي کولی شي د هغوی اجباري ليسې فراغت اړتياو لپاره، د Co-op انتخابي کريډيټو لاسته راوړلو نه محدوديت سره دوه د Co-op کريډيټ غوښتنه وکړي. د Co-op ټاکل زده کونکو لپاره د هغوی ثانوي ښوونځي په واسطه برابر شوي او بايد د معارف وزارت پاليسي او لارښووني پکې تعقيب شي.

## دا د چا لپاره دی؟

- د Co-op پروګرامونه د ثانوي ښوونځي هغه زده کونکو لپاره دي څوک چې د حرفه ای زده کړې، کالج، پوهنتون يا کارځای لپاره نومول کيږي.

## د Co-op پروګرامونو کليدي ګټې

د Co-op زده کونکي فرصت لري ترڅو:

- مسلسل زده کړې تجربه کړي
- د مسلک انتخابونو "ازمول"
- د خپل ټولګي زده کړې ارتباط وګوري
- د کارځای تجربې له لارې کريډيټ لاسته راوړي
- اړين مهارتونو ته وده ورکړي او په کارځای کې اړتوب سره عادت شي
- ارزښتناکه کاري تجربه لاسته راوړي چې د ثانوي څخه وروسته پروګرامونو او راتلونکي دندې لپاره د سوانح لنډيز جوړولو کې ورته مرستندويه وي.

## د Co-op پروګرامونه چيرته وړاندې کيږي؟ څنګه پرې زه نور څه ومومم؟

- د اونټاريو د ښوونځي ټولي اداري د Co-op پروګرامونه وړاندې کوي. د اضافي معلوماتو لپاره د خپل ښوونځي مدير يا د خپل ښوونځي اداري کې د زده کونکي بريا مشر سره اړيکه ونيسئ. د تعاوني زده کړه په اړه لا توضيح شوي معلومات کولی شئ ومومئ په: .www.ontario.ca/studentsuccess

ISBN 978-1-4606-1213-2 (PDF) (Afghani)
© د اونټاريو لپاره کوين پرينټر، 2013

ontario.ca/EDUparents

Ontario